مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

عبدالغفور لېوال

۲۰۲۵/۰۸/۱۹

# رڼا او پاچا

پر زمکه غوږ کېږدی او غږ يې واورئ
له اوږدو لارو نه غوغا راځي
د دې پېرۍ سپين سباوون ته ځير شئ
د شپې له غېږې نه برېښنا راځي
په خيالي اس باندې دی سپور رادرومي
د رڼا پل اخلي او بيا راځي
امان الله راځي
اسمان ته ګورئ له ودانو بامو
پاچا ته مخ لوڅوي سپينه سپوږمۍ
ستوري به کېنوي الف و بې ته
کتاب کتاب به کړي مانۍ و کېږدۍ
سپانده لوګی شه نظر مات د پرنګيو سترګو
د ثريا په ټيک کې لمر تومبي رڼا راځي
امان الله راځي
د لارې غله نه رسی اخلي ګوډ شيطان پرې تړي
د ړوند دجال سترګې ته عقل نه پټۍ جوړوي
بيا د انا د کيسو ځوان شهزاده توره کښلي
بيا د ماشوم له خوږې ژبې نه وا وا راځي
د پرنګيو له ديوانو نه ژړا راځي
ثريا پا خېره مانو لوګی کړه
د خپلواکۍ په سمند سپور ښکلی پاچا راځي
امان الله راځي
امان الله راځي.





افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ